د نوروز تاريخي پس منظر د خوشحال خان خټک د کلام په رڼا کښې

"Exploring the Historical Background of Nowruz through the Poetry of Khushal Khan Khattak

[1]: Dr Nasarullah Khan
[2]:Dr Naila

Abstract:

Nowruz, literally meaning "New Day," is an ancient Aryan spring festival celebrated on the first day of spring across many regions of Central Asia. Historically, the festival has been deeply associated with Balkh in present-day Afghanistan and other neighboring cultural centers, where it has been observed for centuries as a celebration of renewal, nature, and the arrival of a new seasonal cycle. In contemporary Khyber Pakhtunkhwa, however, many among the younger generation are either unfamiliar with this tradition or perceive it solely through a religious lens as an un-Islamic custom. Yet, beyond such perceptions, Nowruz has long represented the end of the harsh winter, the rebirth of nature, and the enduring human celebration of life, hope, and seasonal transformation.

This article examines the historical and cultural background of Nowruz through the poetry of Khushal Khan Khattak. As a seventeenth-century Pashtun poet and intellectual who lived in Akora Khattak (present-day Nowshera, Khyber Pakhtunkhwa), Khushal Khan provides valuable literary evidence of the festival's presence within the cultural life of his time. By analyzing his poetic references, this study explores how Nowruz was understood and practiced in the Pashtun region, highlighting its historical significance and its place within the broader cultural heritage of the region.

Keywords: *Nowruz,sparly,gul,Khushal,culture*

[1]: Associate Professor Department of Pashto Isamia College Peshawar
[2]: Lecturer Govt Girls Degree College Rustam Mardan

انسانانو چې د کله نه ټولنیز ژوند اختیار کړے دے نو د ځان د پاره ئې دود دستور، ائین او قوانین، د ژوند لارې چارې، مابعدالطبعیاتي نظام رغ کړے دے او دغه ټول بیا په کلتوري اقدارو کښې شامل دي ۔ د ژوند پۀ لارو چارو کښې انسانانو د دود دستور لۀ کبله ځان ته د ټولنیز ژوند پۀ سبب د مخکښې تلو لارې هواري کړي دي لکه دا چې پۀ شریکه ښکار کول، کر کیله کول او د غم ښادی رسمونه سر ته رسول ۔ کۀ پۀ تاریخي توګه باندې وکتلې شي نو د دنیا قدیم او جدید قامونه د خپلې خوشحالی د پاره پۀ کلتوري او مذهبي توګه باندې خامخا داسې ورځې لري چې د هغې سره ټولنه پۀ شریکه په دغه ورځ باندې خوشحالي لمانځي۔ لکه دلته د ولډیورنټ دغه خبره رانقل کولے شي چې:

> ”قدیم افریقی رسوم میں ایک روایت آج بھی بعض علاقوں میں کسی نہ کسی شکل میں موجود ہے۔ اس روایت کے مطابق جب سال کی پہلی بارش برستی اور دریاؤں میں پانی کی روانی بڑھ جاتی تو مختلف قبائل اس دن کو خوشی اور جشن کے طور پر مناتے تھے۔ اس موقع پر وہ اپنے عقیدے کے اظہار اور دریا کو نذرانہ پیش کرنے کے لیے ایک کنواری لڑکی کا خون دریا میں بہاتے تھے، جسے وہ خوشحالی، زرخیزی اور قدرتی برکتوں کے حصول کا ذریعہ سمجھتے تھے۔“[1]

دا قسمه رسمونه د ټولنیز ژوند برخه ده چې پۀ هر تهذیب کښې ئې نښخي نښاني باقاعده موجودي دي ۔ ځنې رسمونه پۀ نورو رسمونو بدل شي او ځنې د وخت سره متروک شي او دغسې ټولنیزه سلسله روانه وي ۔ پۀ دغه قسمه تهوارونو کښې بنیادي وجه د یوې علاقې موسمیاتي تغیر هم ډېره برخه لري ۔ لکه د مثال پۀ توګه باندې پۀ یخو علاقو کښې چې سپرلے سر ووهي نو یوه ورځ ټاکلې کېږي او دغسې پۀ ګرمو علاقو کښې چې باراني موسم شروع شي نو یوه ورځ په کښې ټاکلې شوې ده ۔ دا وخت پۀ ایشیا کښې تر ټولو قدیم رسم د هندومت هولي ګڼلې کېږي چې پۀ خپل شکل کښې موجوده ده ۔ د دې په حقله جان جے جیکسن لیکي چې :

> ”ولی ہندو مذہب کے اہم تہواروں میں سے ایک ہے، جو ہر سال موسمِ بہار کی آمد پر بڑے جوش و خروش سے منایا جاتا ہے۔ اس تہوار کی بنیاد ہندو مذہبی روایات اور اساطیری داستانوں، خصوصاً پرہلاد اور ہولیکا کے واقعے سے جوڑی جاتی ہے، جہاں نیکی کی برائی پر فتح کی علامت کے طور پر ہولیکا دہن کیا جاتا ہے۔ ہولی کے دوسرے دن لوگ ایک دوسرے پر رنگ، گلال اور پانی پھینکتے ہیں، مٹھائیاں تقسیم کرتے ہیں اور باہمی محبت، خوشی اور بھائی چارے کا اظہار کرتے ہیں۔ اس تہوار کو فطرت کی تازگی، نئی فصل کی خوشی اور سماجی ہم آہنگی کی علامت بھی سمجھا جاتا ہے، جس میں مذہبی رسومات کے ساتھ ثقافتی رنگ بھی نمایاں ہوتے ہیں۔“[2]

د پورته تمهیدي لیکنې پۀ رنا کښې چې مونږه د پښتنو د ژوند او د دود دستور جایزه اخلو نو پۀ دې کښې هم داسې رسمونه شته چې هغه پۀ تاریخي توګه قدیم دي ۔ لکه د اشر رسم چې فصل پۀ شریکه رېبل او د هغې نه خوند اخستل، د وادۀ رسم خصوصاً جنج پسې تلل او هلک پۀ پالنګ خېژول ۔ پۀ دغه رسمونو کښې یو نور روز هم دے چې د پښتنو د خوشحالی باقاعده یو رسم پاتې شوے دے یا شاید یو رسم لا دے ۔ د

نوروز رسم پۀ حواله باندې وئيل کيږي چې دا يو اريائي قديم رسم دے ۔ ځني ئې د زردشت مذهب سره تړي ولې پۀ هندومت، ګندهاره او وروستو پيړو کښې دغه رسم باقاعده ادا شوے دے نو داسې ښکاري چې د مذهبي رسم پۀ توګه نۀ دے ۔ پۀ قديم کتابونو کښې شاهنامه يو داسې اثر دے چې د نوروز ذکر په کښې موجود دے د شاهنامې ترتيب او تدوين کوونکے جلال خالقي مطلق داسې ليکي:

”وروز یکی از کهن‌ترین جشن‌های ایرانی است که پیشینهٔ آن به دوران باستان بازمی‌گردد، پیدایش نوروز به دوران پادشاهی جمشید نسبت داده می‌شود. فردوسی روایت می‌کند که جمشید پس از بر تخت نشستن و برقراری نظم و آبادانی، در نخستین روز فروردین بر تختی زرین نشست و مردم آن روز را به عنوان «روز نو» جشن گرفتند. از آن زمان، نوروز به نماد آغاز بهار، نوزایی طبیعت، امید، شادی و تجدید حیات تبدیل شد. این جشن در طول تاریخ ایران، از دوران هخامنشیان تا ساسانیان و پس از اسلام نیز، جایگاه فرهنگی و اجتماعی خود را حفظ کرده و همچنان یکی از مهم‌ترین آیین‌های ایرانی به شمار می‌رود.“[3]

ترجمه: نوروز د ايران پۀ قديم رسمونو کښې دے، د کومې تاريخ چې د لرغوني وختونو سره لګي۔ د نوروز ابتدا جمشيد باچا ته منسوب ده ۔ کله چې جمشيد بابا د تخت خاوند شو نو او پۀ ملک کښې امن او امان راغلل نو او چې کله پۀ تخت کښيناستو نو عوامو ئې دغه ورځ د نو روز (نوې ورځ) پۀ توګه باندې ونمانځله ۔د دې نه پس دغه نوروز د سپرلي د راتګ او اومېد او خوشحالۍ يوه علامت وګرځېدو۔د هخامنشي، اشکاني، ساساني او اسلامي دورونو پورې دغه رسم يو ټولنيز اهميت ولرلو۔

پۀ عامه توګه کۀ دغه اساطيري شواهد د منلو وړ نۀ شي نو هم دا يو حقيقت دے چې د مارچ د مياشتې پۀ يويشتمه باندې نمانځلے کيږي ۔ د دې متعلق حسن عاشي ليکي چې:

”اپنی بنیاد میں ایرانی اور زرتشتیتی تہوار ہونے کے باوجود، نوروز کا تہوار دنیا بھر میں متنوع نسلی و لسانی گروہ مناتے ہیں۔ مغربی ایشیا، وسط ایشیا، قفقاز، بحیرہ اسود اور بلقان میں یہ تہوار 3000 سالوں سے منایا جا رہا ہے۔ بیشتر تہوار منانے والوں کے لیے یہ ایک سیکولر تعطیل ہے جو مختلف مذاہب سے تعلق رکھنے والے لوگ مناتے ہیں، لیکن زرتشتی، بہائی اور بعض مسلم گروہوں کے لیے یہ مذہبی دن ہے۔نوروز بہاری اعتدالین کا دن ہے اور شمالی نصف کرہ میں بہار کے آغاز کی علامت ہے۔ یہ ایرانی تقویم کے پہلے مہینے فروردین کا پہلا دن ہوتا ہے۔ یہ عموماً 21مارچ یا اس سے پچھلے یا اگلے دن منایا جاتا ہے۔ سورج کے خط استوا سماوی کو عبور کرنے اور دن اور رات برابر ہونے کے لمحے کو ہر سال شمار کیا جاتا ہے اور خاندان رسومات ادا کرنے کے لیے اکٹھے ہوتے ہیں۔“[4]

هم دغه رنګه د نوروز پۀ حواله باندې وقاص ايسپزے هم ليکي چې :

”د نوروز جشن په افغانستان کښې خورا لرغوني مخينه لري۔ د دې جشن مخينه اريايي زردښتيانو ته رسيږي۔ نوروز جشن د لومړي ځل لپاره د لوړو بېرغونو په

بنار بخدي يا هم اوسني بلخ کښې د اريايي پاچا جمشيد لۀ لورې لمانځل شوے دے۔ لرغونی بلخ د پينځۀ زره کلن تاريخ په ترڅ کښې د لويو تمدنونو زانګو وه او د يوه روايت لۀ مخې وروسته تر بابل او نينوا څخه په نړۍ کښې همدا دوهم تمدن ؤ ۔ د روضه المنجمين په کتاب کښې چې شميران بن ابی الخير هغه په پينځمه قمري پيړۍ کښې ليکلي دي، داسې راغلي دي: «نوروز هغه ورځ ده چې په هغې کښې کيومرث ديو وواژه او جمشيد خلقو ته د بخښنې، روغتيا او د اوږد ژوند زيرے ورکړ، نو ځکه نوروز د اريانا د لرغونې تاريخ يوه ويارلي ورځ ده۔“[5]

دلته دا خبره هم د نوروز سره مهمه ده چې پۀ خيبر پښتونخوا کښې پۀ مېداني سيمو کښې دغه رسم اوس نۀ ادا کيږي بلکې نوے نسل ئې پيژني هم نا ۔ د دې وجه دغه ده چې يو خوا د اسلام مقدسه دين د اخترونو ورځې (عيدالفطر او عيدالضحی) رسمونه باقاعده ادا کيږي د کومې پۀ وجه چې نوروز نظر انداز شوے دے ۔ بلخوا کۀ مېداني علاقو ته وکتلې شي نو وخت پۀ وخت ګرمي سېوا کيږي سپرلے د دې سيمو د پاره د زيرے نا بلکې د ګرمۍ د موسم د راتلو علامت دے۔ کۀ د تېرو څو کلونو موسمياتي بدلون وګورو نو دلته يو ګراف د څو موسمونو پۀ حواله باندې وړاندې کولے شي د مارچ پۀ يويشتمه خصوصاً پېښور وادۍ کښې ګرمي وي ۔

- پۀ کال 2017 کښې 27 سنټي ګريډ ګرمي وه ۔
- پۀ کال 2018 کښې 29 سنټي ګريډ ګرمي وه
- پۀ کال 2019 کښې 24 سنټي ګريډ ګرمي وه ۔ ځکه پۀ دغه ورځ باران ؤ۔
- پۀ کال 2020 کښې 23 سنټي ګريډ ګرمي وه ۔
- پۀ کال 2021 کښې 28 سنټي ګريډ ګرمي وه۔
- پۀ کال 2022 کښې 30 سنټي ګريډ ګرمي وه ۔
- پۀ کال 2023 کښې 27 سنټي ګريډ ګرمي وه۔
- پۀ کال 2024 کښې 25 سنټي ګريډ ګرمي وه خو باران شوے دے ۔
- پۀ کال 2025 کښې 28 سنټي ګريډ ګرمي وه۔
- پۀ کال 2026 کښې 28 سنټي ګريډ ګرمي وه۔[6]

د موسمياتي ادارو د وېنا تر مخه کال پۀ کال تودوخه سېوا کيږي چې په کښې د پېښور او د پښتونخوا ځنې جنوبي اضلاع خصوصي د پام وړ دي او شايد چې پۀ دغه وجه باندې نوروز هم د اولس نظر نه غايب دے ۔ ولې چې د نوروز سپرلي خېز احساس به هغه چا ته کيږي هغوي اوږده يخني تېره کړي او د ګرمۍ موسم ته ساه اخلي نو سپرلي ته خوشحاليږي۔ ځکه کۀ مونږه نن سبا هم وګورو نو د نوروز رسم د ايران پۀ يخو علاقو کښې د افغانستان پۀ يخو علاقو کښې او د مينځۍ ايشيا پۀ يخو هېوادونو کښې نمانځلے کيږي ۔ پۀ دې پس منظر کښې چې اوس د پښتنو پۀ خاوره باندې دې رسم ته پام وشي نو د خوشحال خان خټک شاعري پۀ دغه بنياده چې په کښې د نوروز تفصيلي قصايد ليکلي شوي دي او دا د دې خبرې دليل دے چې همدا نوروز يو وخت د افغانستان او هندوستان پورې ګډ نمانځلے شوے دے ۔ د خوشحال پۀ شاعرۍ کښې يوه بهاريه قصيده چې ټوله پۀ نوروز باندې وئيلې شوې ده ۔ د دې قصيدې ځنې شعرونه رانقل کولے شي:

”د نوروز منت په باغ دے په صحرا هم
نوراني ئې شي لۀ فيضه هغه دا هم
چې په باغ کښې رنګا رنګ ګلونه واشي
غنيمت دے د ګلونو تماشا هم
لخلخې د نوبهار په هر مشام ځي
ګلدستې ئې څنډوي پير و برنا هم
د ګلونو هار په غاړه د دلبرو
شرموي لعل و ياقوت لؤ لو لالا هم
د معشوقو په زلفينو کښې ځائے وکا
ښائسته ګلونه پاس په وربل لا هم“[7]

خوشحال يوه قصيده ليکلې ده او دغه قصيده کښې داسې ښکاري چې د هندوستان پۀ کوم شاهي محل کښې دے، ولې چې دغه قصيده کښې يو خوا د يو محل نما عمارت ذکر کوي کوم چې اصف خان بنا کړے او اصف خان د شاجهان باچا سخر دے۔ ولې خوشحال چې پۀ دغه نظم کښې کومه نښته بيانوي هغه داسې بيانوي چې د (نوروز دولسمه) لکه داسې چې څوک ووائي د اختر پۀ دولسمه۔ اختر چې ولمانځلے شي نو نښته ئې يادېږي۔ دغسې پۀ هندوستان کښې چې خوشحال وائي چې د نوروز پۀ دولسمه نو د دې مطلب دغه دے چې تر هندوستانه دغه نوروز خور ؤ۔ لکه دا شعرونه چې :

”دا بنا د آصف خان لۀ لاسه شوې
او په حکم د خورم په کښې دا کار شي
زر اته پنځوس کالونه د هجرت وو
د نوروز په دولسم چې دا ګفتار شي“[8]

د نوروز سره د جشن ذکر هم بار بار راځي۔ ولې چې پۀ دغه ورځ عام اولس جشنونه کوي خو پۀ مخصوص ځايونو کښې راغونډېدل۔ پۀ پښتونخوا کښې د صدې جشن، د پاڼه چنار، هنګو يعنې د سپين غر د لمنو اولس دغه جشنونه اوس هم لمانځي او پۀ تاريخي توګه باندې د پخوا نه نمانځلې شوي دي ۔ خوشحال هم دغه جشنونو کښې برخه اخستې ده اوس دا نۀ ده واضحه چې د خوشحال پۀ وخت به د نوروز جشن هغوي چرته لمانځو خو د هغوي پۀ شعر کښې د نوروز د جشن بيان پۀ داسې انداز راوړلے شوے دے چې د جهان تر ټولو خوندوري لمحې وي ۔ لکه داسې چې يو څوک ووائي چې شهد خوارۀ دي خو زما د محبوب نه خوارۀ نۀ دي ۔ نو دلته کۀ د محبوب خوږوالے مجازي دے او شهد يو حقيقت دے ۔ دغه رنګه خوشحال هم پۀ شعر کښې د نوروز د جشن اهميت داسې پۀ ګوته کوي چې وائي :

”سل جشنه نوروزه تر هغه ساعت ځارېږه
هر چې دلداده عاشق خپل يار لره وردرومي“[9]

سپرلے پۀ علامتي توګه باندې د عالمي شاعرۍ برخه ده ولې خوشحال د سپرلي سره د نوروز ذکر کوي ۔ هغه څوک چې دا اعتراض لري چې د نوروز جشن د پښتنو سره تعلق نۀ لري دا کوم ايراني رسم دے نو د هغوي د پاره هم دغه دليل کافي دے چې نوروز د دې سيمې يعني خصوصاً د اباسين نه تر روسي هېوادونو پورې مشترک رسم پاتې شوے دے او په دغه حواله باندې ايرانے رسم بلکې ارين رسم دے ۔ چې څنګه نورو قامونو کړے دے داسې د پښتنو هم کړے دے لکه خوشحال ئې پۀ رباعۍ کښې داسې بيانوي:

”ساقي راپاڅه چې بيا نوروز راغے
ګل پۀ ګلشن کښې جهان افروز راغے
غم دې پۀ برخه د دښمنانو شي
فال د دوستانو عجب فيروز راغے“[10]

خوشحال خان خټک د نوروز ذکر د کابل د باغ سره کوي او وائي چې د پښتون وطن د نورو سيمو باغونه پۀ نوروز کښې ګل کيږي خو د کابل باغونه په هار کښې ۔ دلته هم شعر ظاهروي چې د نو روز يادونه په داسې ډول شوې ده چې د پښتون وطن جغرافيه ورسره تړلې شوې ده ۔ ځکه چې کابل نه رابنکته سپرلے زر راځي او کابل د يخې آب و هوا پۀ وجه وروستو ونې ګل کوي ۔ لکه خوشحال وائي :

”نور باغونه د نوروز پۀ وخت غوړيږي
پۀ اهار کا غوړېدو د کابل باغ“[11]

پۀ کال 2026 کښې کوچنے يعني وړوکے اختر پۀ شلم او يويشتم مارچ تېر شوے دے ۔ دا د پاکستان د بېلابېلا سيمو پۀ حساب وايم۔ کۀ وکتلې شي نو مطلب دا دے چې موسمي خوشحالي (رسم) يعني نوروز او اسلامي اقدار لرونکے اختر سره شريک شوي دي ۔ اګر چې پۀ خيبر پښتونخوا کښې عموماً ډېرو سيمو کښې صرف اختر ولمانځلے شو او چا د نو روز ذکر هم نۀ وي کړے خو يو وخت داسې ؤ چې دغه دواړه خوشحالي يعني د اختر او نوروز ورځ غبرګه راغلې وي ۔ ځکه چې خوشحال يو خوا وائي چې دواړه غبرګ راغلل ۔ بل خوا وائي چې د زاهد توبه دې کډه نغاړي نو مطلب دا چې د رمضان مياشت چې اکثره انسانانو په کښې نفس پۀ قابو کښې ساتلے وي او پۀ شريعي توګه پۀ ډېرو شيانو قدغن هم وي ۔ نو ځکه خوشحال د وړوکي اختر خوشحالي کوي خو د هغې نه زيات د نوروز ميو او مستۍ ته خوشحاله دے ۔ لکه دا شعرونه:

”راغلۀ اختر او نوروز همغاړي
مينا خندا کا چغانه ژاړي
ساقي دا وخت دے چې توبه نغاړي
و ما ئې راکړه زړۀ مې مئے غواړي“[12]

د پورتني بحث نه چې کومې نتيجې اخذ کېږي هغه دا چې يو خو د نوروز دغه قديم رسم چې د سپرلي د وړومبۍ ورځې سره منسوب دے هر ګز ايراني رسم نۀ دے بلکې د ټولې مينځۍ ايشيائي ملکونو رسم دے ۔ هم دغه رنګه پښتانۀ وطن کښې هر څو کۀ په افغانستان او د پاکستان پۀ کوټه، چمن، قلعه سيف الله، هنګو، کرمه، اورکزے او پاړه چينار کښې ادا کېږي خو پۀ مېداني علاقو خصوصاً پۀ پېښور وادۍ کښې دغه رسم بېخې ختم شوے دے۔ د خوشحال د شاعرۍ نه څرګندېږي چې نوروز يو وخت پۀ ټوله سيمه کښې باقاعده نمانځلے شوے دے ۔

حوالي

1 : ولڈيورنٹ، انسانی تہذيب کی ارتقا، فکشن ہاوس لاہور، ۲۰۱۱، ص ۳۹

2 : جان جے جکشن، انسان، خدا اور تہذيب، مترجم ياسر جواد، نگارشات، ۲۰۲۱، ص ۱۳۹

3 : فردوسی، ابوالقاسم. *شاهنامه*. به تصحيح جلال خالقی مطلق، تہران: مرکز دائرةالمعارف بزرگ اسلامی، ۱۳۸۶.، ص ۲۴۰.

4 : https://www.banuri.edu.pk/readquestion/norz-ka-ps-manzar-oris-k-mnane-ka-shari-hkam-144308101839/26-03-2022

5 : وقاص ايسپزے، د نوروز ملي تاريخ، ميا شتنۍ پښتون، اپريل ۲۰۲۶، باچاخان ريسرچ سنټر، ص ۱۳

6 : https://www.accuweather.com/en/pk/peshawar/259370/hourly-weather-for

7 : خوشحال خان خټک، ارمغان خوشحال خان، مقدمه سبدالرسول رسا، يونيورسټي پبلشر، ۲۰۰۶، مخ ۲۸۱

8 : همدا کتاب، مخ ۲۸۹

9 : خوشحال خان خټک، د خوشحال خان خټک کليات، اوډونه، پرتلنه او سمونه عبدالقيوم ذاهد مشواني، دانش خپروندويه ټولنه، کابل، ۲۰۰۵، مخ ۵۹۵

10 : همدا کتاب، مخ ۵۵۷

11 :همدا کتاب، مخ ۱۸۲

12 : همدا کتاب، مخ ۵۶۱